# خبرپاڼه

## د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره

۱۶ تله ۱۳۸۵


### په دې ګڼه کې


درې نوري د نشه يي توکو ضد پروژې به په ۱۲ ولايتونو کې پلي شي ۲

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پاملرنې پلي له ايچ.آی.وي/ايډز څخه د خپلې اداري د کارکوونکو د خبرولو لپاره د خبروني د پروګرام دويمه دوره پيل کړه ۳

د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق د بديل معيشت د دوو نويو پروژو لپاره ۹۴۵,۰۰۰ ډالر ورکړل ۳

تر ۶۰ ډيرې ښځينه زده کوونکې له هغه ټولګې څخه فارغې شوي چې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د نوي پيل پروګرام له خوا د پخوانيو وسله والو د کورنيو لپاره جوړشوي دي ٤


## د هېواد دننه او راستنو شويو بې کوره کډوالو لپاره په کابل کې ۱۴۰۰ کورونه جوړېږي

د افغانستان اسلامي جمهوريت، د استراليا حکومت او د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداري په رسمي توګه د ۱۳۸۵م کال د تلې پر ۶مه نېټه د بهرنيو چارو په وزارت کې د پروژې د سند د لاسليك کولو له مراسمو سره د `الیس-غان پروژه` پيل کړه. د `الیس-غان` په پروژه کې به د راستنوشويو کډوالو او د هېواد دننه بې ځايه شويو کورنيو لپاره شاوخوا ۱۴۰۰ کورونه د کابل په شمال کې د باريکاب په ساحه کې جوړ شي. پروژه به د مستحق راستنوشويو کډوالو او هېواد دننه بې ځايه شويو کورنيو لپاره د کور جوړوني او د ځمکې د ويش په هکله د ولسمشر له ۱۰۴م کني فرمان سره سم پلي شي.



د پروژې د لاسليك کولو د مراسمو په ترڅ کې د ښاري پرمختيا او کور جوړني وزير ښاغلي انجنير يوسف پښتون په خپلو خبرو کې ګرځنده



ښاغلی يوسف پښتون د ښاري پرمختيا د چارو وزير

کړه چې "د الیس-غان نوم ژور تاريخي پس منظر لري. الیس په مرکزي استراليا کې يو ښار دی چې له ۱۵۰ کلونو راهيسې په کې ګڼ شمېر افغانان اوسېږي. افغانانو د استراليا د اورګادي پټلۍ په جوړولو کې مهم نقش لوبولی دی. هيله لرم چې استراليا به د الیس-غان له ښارګوټي او د هغه له پراختيا سره سخاوتمندانه مرسته وکړي. همدارنګه د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري مننه کوم چې د دې ډېرې مهمې پروژې په پلي کولو کې له موږ سره مرسته کوي."

د ښاري پرمختيا او د کډوالو د چارو وزارتونو د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري او د استراليا د کډوالي او د کلتوري چارو وزارت په ملاتړ د پروژې په طرحه کولو کې مخکښ نقش لوبولی دی.

د کډوالو د چارو وزير ښاغلي محمد اکبر د پروژې د اسنادو د لاسليك کولو په مهال وويل: "الیس-غان زموږ د هغو ژمنو ځرګنده ښکارندويه ده چې بې ځمکې راستنو شويو کډوالو ته به سرپناه او خوندي شرايط برابروو. حکومت په پام کې لري چې ۴۹ ورته پروژې د هېواد په ۲۹ ولايتونو کې جوړې کړي."

دغه پروژه د استراليا دولت د ۷,۳ مليونه امريکايي ډالرو د مرستې له لارې تمويليږي او د سلګونو بې کوره کډوالو پايدونکي راستنېدنې او ميشته کېدنې ته د ودې او ورکولو له لارې په افغانستان کې د سولې او ثبات د ملاتړ موخه لري. د غونډې برخه والو ته د خپلو خبرو په ترڅ کې د استراليا سفير ښاغلي بريټ هاکيټ وويل: "الیس-غان پروژه هم مهمه او هم بې



ښاغلی بريټ هاکيټ، د استراليا سفير

جوړې ده. موږ ټول د دې پروژې په برياليتوب کې ونډه لرو او افغان حکومت او ملګرو ملتونو کې له خپلو شريکانو سره به يې برياليی کوو. افغان ولس د ډير څه مستحق دی. دغه پروژه به د نورو لپاره يوه نمونه وي او له همدې امله به د استراليا حکومت د الیس-غان پرمختګ له نږدې څخه تعقيب کړي. ټولو اړوندو خواوو ته مبارکي وايم او د دوی د سخت کار او ملاتړ مننه کوم چې له برکته يې نن د پروژې سند لاسليك کېږي. دا يو مهم ګام دی خو د پروژې د ژوندی پاتې کېدنې لپاره يوازينی نه دی."

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختيايي اداره د دواړو حکومتونو له خوا د پروژې د اداري لپاره کمارل شوې ده. دغه پروژه د ښاري بې وزلې د کمولو د مسئلې د اوري لپاره چې د زريزې د پرمختيايي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره، چې افغانستان هم لاسليك کړي دي، ډيره مهمه ده. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د



انيتا نيرودي، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې رئيسه

پرمختيايي اداري رئيسې انيتا نيرودي په خپلو خبرو کې وويل: "تمه کېږي چې افغانستان ته د ۲۰۰۱م کال د نومبر راهيسې د ۴,۷ مليونه


**د لازياتو معلوماتو لپاره:**

اکمل داوي د اطلاعاتو او نشراتو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۰ ۲۰ ۱۱ ۲۳
akmal.dawi@undp.org

راستنو شویو کډوالو او کورنیو بېځایه شوو خلکو برسېره ۶۰۰٫۰۰۰ نور کډوال په ۲۰۰۶م کې راستانه شي.“ دې زیاته کړه چې: ”د دغو خلکو ځای پر ځای کول د افغان حکومت لپاره یوه ستره ننګونه ده. د افغانستان لپاره د کډوالو د بیا میشته کولو د مسئلې اوارې ډېر مهم دی تر څو د بشري خونديتوب هغه موخې تر لاسه کړي چې په خپلې ملي پرمختیايي ستراتیژۍ او د زريزې پرمختیايي اهدافو کې یې په ګوته کړې دي. “

دغه پروژه لاندې ځنې مهم اړخونه لري:

●د کورونو په جوړولو کې د کډوالو او کورنیو بې ځایه شویو کسانو نقش. هرې کورنۍ ته د کور جوړنې لپاره ټول ضروري مواد، د مهارتونو روزنه او د تخنیکي ځارنې اسانتیا ورکول کېږي؛

●دغه پروژه یوازې د یو فزیکي پنډغاري د جوړونې په هکله نه بلکې د یوې پایښتونکې ټولنې د جوړونې په اړه ده، نو پر ټولنیزې پلان جوړونې، کار موندنې او پرمختیا باندې په کې ټینګار کېږي؛

●زېربنا او خدمات هم د پروژې برخه ده. نو د اوبو رسونې، ښوونځیو او روغتیايي او ټولنیزو مرکزونو جوړونه به د پروژې مهم عناصر وي؛

●ټول کورونه به له زلزلې سره د مقاومت له معیارونو سره سم جوړ شي. د ملګرو ملتونو تخصصي اداري لکه د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ (UNHCR) او هابیتات (UN-HABITAT) د پروژې د تیارې په ټولو مهمو پړاوونو کې برخه درلوده.

افغان حکومت، د استرالیا حکومت او د ملګرو ملتونو برخه والو ادارو د پروژې په طرحه او ډیزاین کې ګډ کار کړی تر څو داسې یوه پروژه جوړه شي چې په ټول هېواد کې د تکثیر وړ وي. دغه هدف ځکه په پام کې نیول شوی چې په افغانستان کې د کورونو اړتیا یوه د پام وړ ننګونه ده.

د لازیاتو معلوماتو لپاره
لاندې ویب پاڼې ته وګورئ:
www.undp.org.af

# درې نورې د نشه يي توکو ضد پروژې به په ۱۲ ولایتونو کې پلې شي



ښاغلی وزیر حبیب الله قادري او ښاغلی وزیر عبیدالله رامین د پروژې د اسنادو له لاسلیک وروسته یو بل ته لاس ورکړی دی

د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې وزیر ښاغلي حبیب الله قادري او د کرنې، مالدارۍ او خوراکي توکو وزیر عبیدالله رامین د نشه یي توکو ضد درې پروژې لاسلیک کړې چې په ۱۲ ولایتونو کې به پلې کېږي.

د دغې مرستې ۶۵۵٫۰۰۴ ډالر د کنړ، کندهار، نورستان، ننګرهار او پکتیا په ولایتونو کې د شاتو د مچیو د فارمونو پروژې ته بېلې شوې چې ۴۰۰ ځایي خلک به په کار وګماري. دغه پروژه به همدارنګه د شاتو د مچیو د څېړنې د مرکزونو له عصري کولو سره مرسته وکړي.

د مرستې ۱٫۲۰۷٫۹۶۲ ډالر د ننګرهار په ۱۱ ولسوالیو کې د باغونو، ځنګلونو او وړو بندونو د پروژې د پلي کولو لپاره بېلې شوې دي. دغه پروژه به برسېره پر دې چې ځایي خلکو ته کار پیدا کوي، په ټاکلو شوو سیمو کې به له ډېرو بزګرانو سره د کرنیزو تولیداتو په ډیروالي کې مرسته وکړي.

د وریښمو د چنجیانو صنعتي پروژې ته به هرات، جوزجان، سرپل، بلخ، سمنګانو، بغلان او کندز ولایتونو کې د فعالیت لپاره ۵۰۷٫۴۰۱ ډالر ورکړل شي. د دغې پروژې له لارې به همدارنګه د کابل په دارالامان کې د پیلوري فارم بیا ورغول شي.

نوموړې درې پروژې به چې ټول لګښت یې ۲٫۳۳۰٫۳۶۷ ډالره دی د کرنې، مالدارۍ او خوراکي توکو د وزارت له خوا د افغانستان د نشه یي توکو د کنټرول له تګلارې سره سم پلې شي.

دغه امانتي صندوق د نشه یي توکو پر خلاف د مبارزې ملي تګلارې چې لاندې اته ستنې لري، پیاوړي کوي:

۱. بدیل معیشت؛
۲. د اداري بنسټونو جوړونه؛
۳. د عوامو خبرونه؛
۴. د قانون پلې کېدنه؛
۵. جنايي عدالت؛
۶. د نشه یي توکو د غوښتنې کمول او پر نشه یي توکو د اخته کسانو درملنه؛
۷. نړیواله او سیمه ییزه همکاري.

د پروژې د منظورۍ معیارونه پر دغو پورتنیو اتو ستنو ولاړ دي. کله چې یوه پروژه د تمویل لپاره ارزول کېږي یو لړ نور عمومي معیارونه هم تر غورلاندې نیول کېږي لکه جغرافیایي موقعیت، د اړوندو وزارتونو او ادارو د جذب ظرفیت او دا چې ایا د نشه یي توکو ضد مبارزه د پروژې اصلي ټکی دی که نه. د نشه یي توکو ضد امانتي صندوق چارې د ملي اجرا پر بنه پلې کېږي نو د افغانستان اسلامي جمهوریت د مالیې او د نشه یي توکو پر خلاف د مبارزې د وزارتونو له لارې د اړوندو پروګرامونو د اداري عمومي مسؤولیت پر غاړه لري. نور اړوند وزارتونه د امانتي صندوق د پلي کوونکو شریکانو په توګه د نشه یي توکو پر خلاف د مبارزې له وزارت سره د خپل کار په چاپیر کې د نشه یي توکو پرخلاف د مبارزې اړوندو پروژو په پراختیا او برابرولو کې ګډ کار کوي.

**لاسته راوړنې**

●د امانتي صندوق لپاره د دندو لایحه د افغان حکومت له خوا تائید او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د مرکزي دفتر له خوا د ۲۰۰۵ کال د می په میاشت کې لاسلیک شوه. د پروګرام سند د مالیې وزیر، د نشه یي توکو پرخلاف د مبارزې وزیر او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري د افغانستان د دفتر د رئیس له خوا د ۲۰۰۵ کال د اکتوبر د میاشتې پر ۲۹مه نېټه لاسلیک شو. په دې توګه د نشه یي توکو پر خلاف د مبارزې د کاري پلي پروګرام په رسمي توګه جوړ شو، چې د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره کولی شي له مرسته ورکوونکو څخه مرستې تر لاسه او منظور شوو پروژو ته یې ورکړي.

●د نشه يي توکو پرخلاف د مبارزې د امانتي صندوق مدیر د ۲۰۰۵م کال په اګسټ کې وګمارل شو چې د نشه یي توکو پرخلاف د مبارزې وزارت او د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره کې به کار کوي.

●د اداري پلاوي دوې غونډې ترسره شوې او له دې وړاندې د اوبو د برېښنا د درېیو وړو بندونو یوه پروژه منظوره شوې ده

●استرالیا د ۲۰۰۵ کال په جون کې (۱۵۲۶۷۱۸) امریکایي ډالرو لومړی مرسته ورکړه، په تعقیب یې د ۲۰۰۵م کال په اکتوبر کې نیوزیلانډ (۳۵۲۶۰۹) امریکایي ډالر ورکړل. په ډیسامبر کې د اروپا کمېسیون د ۱۵ ملیونو ایرو مرستې تړون لاسلیك کړ او ایستونیا (۵۰۰۰۰) امریکایي ډالرو مرسته وکړه. د ۲۰۰۶م کال په مارچ کې برتانیې د (۱۵۶۵۲۱۷۳) او کاناډا د (۱۰۵۲۶۳۲) امریکایي ډالرو مرسته وکړه. د ۲۰۰۶م کال د لومړی څلورمې (ربعې) تر پایه د نشه یي توکو پر خلاف د مبارزې د کارونو د تمویولو لپاره د نشه یي توکو پرخلاف د مبارز امانتي صندوق ته (۳۳۱۵۱۷۷۹) امریکایي ډالر ورکړل شوي دي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره
لاندې ویب پاڼې ته وګورئ:
www.mcn.gov.af

د ملګرو ملتونو پرمختیایي اداره له خپلې ویب پاڼې پرته د نورو ویب پاڼو د محتویاتو مسؤوله نه ده

# د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پاملرنې ډلې له ايچ.آی.وي/ايډز څخه د خپلې اداري د کارکوونکو د خبرولو لپاره د خبروني د پروګرام دويمه دوره پيل کړه



د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پاملرنې د ډلې د ايچ.آی.وي/ايډز د خبرتيا د ناستې برخه وال

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د مرکزي دفتر د پاملرنې ډلې په دې وروستي وخت کې د خپلې اداري ټولو کورنيو او نړيوالو کارکوونکو ته د ايچ.ای.وي/ايډز په هکله د تازه معلوماتو د وړاندي کولو لپاره د خپل روزنيز پروګرام دويمه دوره پيل کړه.

د پاملرنې ډلې له خپل کاري پلان او د دندې له لوايحو سره سم د ايچ.ای.وي/ايډز د اساساتو په

لوايحو سره سم د ايچ.ای.وي/ايډز د اساساتو په هکله د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د کارکوونکو د خبرتيا د کچې د لوړونې لپاره د روزني لومړنۍ دوره تيرکال ترسره کړې وه. دغه روزنه نه يوازې د کارکوونکو بلکې د دوی د کورنۍ د غړيو لپاره هم د بيدارولو او هم د معلوماتو د خپرولو له پلوه ګټوره وه.

د دې لپاره چې ټول کارکوونکي د ايچ.ای.وي/

د دې لپاره چې ټول کارکوونکي د ايچ.ای.وي/ايډز د اساساتو په هکله بشپړ عمومي نظر پيدا کړي او په ازداه فضا کې خپلې پوښتني مطرحه او د اړوندو اندېښنو په اړه ازادې خبرې وکړي، د نارينه افغان کارکوونکو، ښځينه افغان کارکوونکو او د نړيوالو کارکوونکو بېلې بېلې ډلې جوړې شوې وې. له روزنې سره په انګريزي، پښتو او دري کې معلوماتي کتابګي، معلوماتي پاڼې او پوسترې چې د ايچ.ای.وي/ايډز په هکله يې مهم معلومات درلودل مل وو.

د کورنيو کارکوونکو د ګډون کچه د تيرې دورې په پرتله لوړه وه چې په څرګنده توګه له دې ټکي سره د دوی لېوالتيا ښيي چې څنګه خپل ځانونه او کورنۍ له ايچ.ای.وي څخه وساتي او په انفرادي توګه د کار په ځای او ټولنه کې د ايچ.ای.وي/ايډز د خپرېدو د مخنيوي لپاره هڅه وکړي. د روزنې برخه والو خپله لېوالتيا د پوښتنو او ځوابونو په برخه کې د ګټورو بحثونو په ترڅ کې څرګنده کړه. دوی له روزنې څخه خوښي څرګنده کړه او ژمنه يې وکړه چې له خپلو کورنيو، ملګرو او همکارانو سره به زده کړې معلومات شريکوي او که لاډيرې مشورې او لارښوونې ته يې اړتيا درلوده نو د پاملرنې ډلې ته به ورځي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري دفتر د نړۍ د نورو دفترونو په څير خپلو

کارکوونکو ته د ايچ.ای.وي/ايډز اړوندو مسايلو په هکله د بنسټيزې روزنې د وړاندې کولو لپاره د ۲۰۰۵م کال په اپريل کې د پاملرنې ډله جوړه کړه. د دغې ډلې غړي په خپله خوښه د کارکوونکو د پوهاوي او له دوی سره د ټيسټ، درملنې او سلامشورې په برخه کې د مرستې لپاره فعاله کار کوي او اصلي موخه يې د دې وژونکي ميکروب له زيانونو او اغيزو څخه د کارکوونکو خبرونه ده.
د پاملرنې ډله له ايچ.ای.وي/ايډز څخه د ځان ساتنې او د دغې ناروغۍ د مخنيوي د لارو چارو په هکله اساسي معلومات وړاندې کوي او هڅه کوي چې د کار په ساحه کې د هغو کسانو پر وړاندې د تبعيض او بې احترامۍ کچه ټيټه کړي چې ايچ.ای.وي/ايډز باندې اخته دي.

وروستۍ خو مهم د يادولو وړ ټکی دا دی چې د پاملرنې ډله د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د لوړ پوړي مديريت بشپړ ملاتړ او ژمنه له ځان سره لري او هوډمن دی چې د خپل کار ساحه به پراخه کوي او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري د پروژو او سيمه ييزو او ولايتي دفترونو لپاره به ورته (عيني) روزنيزې او د معلوماتو د خپروني ناستې جوړوي.

د لازياتو معلوماتو لپاره

لاندې ويب پاڼې ته وګورئ:

www.undp.org.af

# د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق د بديل معيشت د دوو نويو پروژو لپاره ۴۵,۰۰۰ ډالر ورکړل

د سرپل او ننګرهار ولايتونو لپاره د بديل معيشت دوې پروژې منظور شوې چې ځايي وګړو ته به د لنډ مهاله کار (۷۸,۶۴۲ ورځني کار) موقع برابره کړي.

د دغو پروژو د پلي کولو تړونونه د نشه يي توکو پرخلاف د مبارزې، د اوبو او برېښنا او فوايدو عامې وزارتونو د مرستيالانو له خوا لاسليك شول. د دواړو پروژو لګښت به چې ۹۴۵,۰۰۰ ډالر کېږي د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق له خوا ورکړای شي.

د سرپل ولايت د بلخاب ولسوالۍ سرك به له اړوندو لښتيو او پلونو سره يو ځای د فوايدو عامې وزارت له خوا ورغول شي. دغه پروژه به پنځه مياشتې وخت ونيسي، ۶۴۸۵۱۳ ډالر لګښت به ولري او د سيمې شاوخوا ۱۵۰۰۰ اوسېدونکي به ورڅخه ګټه پورته کړي.

د ننګرهار په اچين، پچيراګام، چپرهار او ده بالا ولسواليو کې به د استنادي ديوالونو د جوړولو لپاره ۲۹۶۹۱۹ ډالر ورکړل شي، چې د کرنې وړ شته ځمکې به له زيانمېدو څخه وساتي او نوره ځمکه به د کرنې او اوبولګولو لپاره برابره کړي. د اوبو او برېښنا وزارت به دغه پروژه په راتلونکو پنځو مياشتو کې پلي کړي.

د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق د ۱۳۸۴م کال د لړم پر ۷مه نېټه د کوکنارو د کښت او د نشه يي توکو د سوداګرۍ پر خلاف د مبارزې په خاطر له افغان حکومت سره د نشه يي توکو ضد ملي تګلاره د پلي کولو په لار کې د مرستې لپاره جوړ شو. دغه امانتي صندوق د لاندې اساساتو له مخې اداره کېږي:

- د ملي پرمختيايي بودجې له لارې دولت ته د نشه يي توکو ضد هڅو لپاره د اضافي سرچينو برابول؛
- د دغو سرچينو په ځانګړي کولو (تخصيصولو) کې د روڼتيا او د حساب ورکړې باوري کول؛
- حکومت ته دا توان ورکول چې د نشه يي توکو ضد تګلارې د پلي کولو چارې لاډيرې په خپل لاس کې واخلي؛
- د نشه يي توکو ضد فعاليتونو د تمويل په چارو کې لا ډير سمون ته وده ورکول.

د نشه يي توکو ضد امانتي صندوق ته د بېلابېلو



مرسته وکوونکو له خوا مرسته ورکول کېږي او د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري له خوا اداره کېږي. د ملګرو ملتونو د پرمختيايي اداري او د نشه يي توکو پر خلاف د مبارزې وزارت ګډ هيئت د بېلابېلو حکومتي ادارو له خوا د نشه يي توکو ضد وړانديز شوې پروژې له ارزونې وروسته منظوروي. د نشه يي توکو ضد پروژې اسناد د پروژې له منظورېدو وروسته د اړوندو وزارتونو تر منځ لاسليك کېږي او د ماليې

وزارت بيا د پروژې د پلي کولو لپاره بېله شوې پانګه ورکوي.

د لازياتو معلوماتو لپاره

لاندې ويب پاڼې ته وګورئ:

www.mcn.gov.af

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره له خپلې ويب پاڼې پرته د نورو ويب پاڼو د محتوياتو مسؤوله نه ده

# تر ۶۰ ډېرې ښځينه زده کوونکې له هغه ټولګي څخه فارغې شوې چې د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د نوي پيل پروګرام له خوا د پخوانيو وسله والو د کورنيو لپاره جوړشوي دي

د ۱۳۸۵م کال د تلې پر ۳مه نېټه د پخوانيو وسله والو د کورنيو ۶۱ ښځينه زده کوونکې د ښوونکو د روزنې له پروګرام څخه فارغې شوې. دوی ته د کابل ښار په څلورمه کارته، د ښوونکو د روزنې په مرکز کې د يو لړ مراسمو په ترڅ کې



زده کوونکې د برېليك د ترلاسه کولو په مهال

برېليکونه ورکړل شول.

د ښوونکو د روزنې پروګرام د غبرګولي په مياشت کې پيل او د پوهنې د وزارت له خوا د برابر شوي نصاب له بشپړولو وروسته د وږي پر ۲۴مه نېټه پای ته ورسېد. په پام کې ده چې د دغه پروګرام له مخې به په ټول هېواد کې په ټولېزه توګه ۳۳۵ ښځې وروزل شي. دوی به د روزنې پنځه مياشتنی کورس بشپړوي او بيا به د خپلو اړوندو ولايتونو په بېلابېلو لومړنيو ښوونځيو کې ښوونه کوي.

د ملګرو ملتونو د پرمختيايي ادارې د افغانستان د نوي پيل پروګرام د پوهنې او د ښځو د چارو له وزارتونو سره په نږدې همکارۍ کې نبغ په نبغه د ښوونکو د روزنې د پروګرام ملاتړ کوي. دغه پروګرام د بې وسلې کولو او ملکي ژوند ته د راګرځولو د بهير د يوې برخې په توګه پخوانيو وسله والو ته د بې وسلې کولو او ملکي کولو له پړاوونو څخه وروسته په ټولنه کې د ميشته کولو لپاره د يوې لارې په توګه وړاندې کېږي.

د ۱۳۸۵م کال د چنګاښ پر ۹مه نېټه په ټولنه کې د پخوانيو وسله والو د ميشته کولو د پړاو له بشپړېدو سره د پخوانيو وسله والو د بې وسلې کولو، ملکي ژوند ته د راګرځولو او په ټولنه کې د ميشته کولو بهير پای ته ورسېد. تر نن ورځې، د پخوانيو وسله والو د کورنيو ۲۴۵۳۶ ښځو په پرمختيايي پروژو کې د اضافي زده کړې او عايد مواقعې ترلاسه کړې او يا يې د ترلاسه کولو په تمه دي. يو بل ښه خبر دا دی چې د افغانستان د نوي پيل پروګرام د خوراکي توکو له نړيوال پروګرام سره د ښه نيت يو تړون لاسليك کړی چې له مخې به يې د خوراکي توکو د نړيوال پروګرام اړوندو پروژو کې له ۲۰۰۶ نه تر ۲۰۱۰م کال پورې د پخوانيو وسله والو د کورنيو ۴۴۵۵ ښځو ته د کار موقع ورکړای شي.

د لازياتو معلوماتو لپاره

لاندی ويب پاڼې ته وګورئ:
www.undp.org.af

د ملګرو ملتونو پرمختيايي اداره له خپلې ويب پاڼې پرته د نورو ويب پاڼو د محتوياتو مسؤوله نه ده





د لازياتو معلوماتو لپاره:
اکمل داوي د اطلاعاتو او نشراتو مسوول
+۹۳ (۰) ۷۰ ۲۰ ۱۱ ۲۳
akmal.dawi@undp.org